# د مرحوم استاد الفت صاحب لنډه پېژندنه !

اروانباد ګل پاچا الفت د پښتو ژبې لوی شاعر او پیاوړی لیکوال، د خدای بخښلی میر سید پاچا ځوی دی، چه په ۱۲۸۸ هجري ش. کال، دافغانستان د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالي د عزیز خان په کڅ کې زیږیدلی دی. خدای بخښلی الفت صاحب د هغه وخت د تعلیمي رسم سره سم د دیني او عربي علومو مروجه تعلیم د جومات نه پیل کړ، او د هغه خاصې ذکاوت او استعداد له برکته چه خدای (ج) ورکړی ؤ، په ډیر لږ وخت کې د صرف، نحو، فقه، منطق، فلسفه، حدیث او تفسیر کتابونه د هغه وخت له مشهورو استادانو څخه وویلې. د دیني متداوله علومو د پای ته رسولو او شخصي مطالعو نه وروسته، الفت صاحب په ۱۳۱۴ هجري ش. کال کې د انیس د ملي ورځپاڼې په دفترکې د کاتب په حیث مقررشو.

په ۱۳۲۸ هجري ش. کال، د شورا په اوومه دوره کې، الفت صاحب د ننګرهار د خلکو لخوا د وکیل په حیث انتخاب او په شورا کې د دویم معین په توګه و ټاکل شو. په کال ۱۳۳۱ د شورا په اتمه دوره کې الفت صاحب د لغمان د قرغیو ولسوالي د خلکو لخوا وکیل انتخاب شو.

اروانباد الفت صاحب د رسمي ماموریت، شاعري او لیکوالي تر څنګ په سیاست کښې هم فعال و. په کال ۱۳۳۰ هجري ش. کښې الفت صاحب د ولس ملي جریده تاسیس او د ۱۳۳۲ کال تر پایه ددغه جریدې د امتیاز خاوند و چې د ولس ملي جریده د لوستونکو د شمیر له مخې د هغه وخت د ډیرو لویو آزادو ملي جرایدو څخه ګڼل کیده.

د ۱۳۳۴ هجري ش. کال په لویه جرګه کې، مرحوم الفت صاحب د ننګرهار د خلکو لخوا وکیل شو.

په کال ۱۳۳۵ هجري ش. کښې الفت صاحب د پښتو ټولنې د رئیس په حیث و ټاکل شو او وروستی رسمي ماموریت ئې د ډاکټر محمد یوسف په کابینه کې په کال

۱۳۴۳ هجري ش.د قبائلو مستقل رياست و. الفت صاحب  د رسمي ماموريت په ځنګ کې  د کابل پوهنتون د ادبياتو او حقوقو په پوهنځيو کښې د پښتو ژبې استاد هم و.
په کال ۱۳۴۳ هجري ش. کال الفت صاحب د قبائلو د مستقل رياست نه استعفیٰ وکړ او د شورا په دولسمه دوره کې بيا دننګرهار د وکيل په حيث انتخاب شو چه تقريباً ۳۴ کاله د دولت  د رسمي مامور او د شورا د وکيل  په توګه  په خدمت بوخت ؤ.
الفت صاحب  نه يواځې د خاص ذکاوت او استعداد خاوند ؤ، بلکه  دليکوالی د خاص قدرت او شعري رواني قريحې  خښتن هم ؤ. الفت صاحب په رسمي ماموريت سربيره، ديني، اجتماعي، سياسي، او انتقادي شعرونه او مضامين وليکل او  کتابونه او علمي رسالې تاليف کړ، چه ځينې تاليفات يې مطبوعاتي جوائز هم ګټلي.دي.
دا د پښتو ژبې شاعر او ليکوال په دري ژبه هم شعرونه اومضامين ليکلي چه له بده مرغه ددوی دري اشعار اوس په لاس کښې ندي. د ارواښاد الفت صاحب تاليفات د نظم، نثر او ترجمې  پنځویشت کتابونو ته رسيږي، چه ځينې کتابونه يې تر اوسه ندي چاپ شوي. د استاد الفت آثار په خواشينی سره تر اوسه په بهرنيو ژبو هم ترجمه شوي ندي.
الفت صاحب يو متواضع، حليم، خاموش او لږ ويونکی سړی و. بې ضرورته خبرې يې نه کولې او تل به يې د بل خبرو ته غوږ اينسود، ډيره ظريفه طبع يې لرله او په توقو کښې يې هم ادبي نکات پراته و.
دمرحوم الفت صاحب په شخصيت، شاعرۍ او ليکوالۍ،د دوی دوستانو، شاعرانو او ليکوالو ډير په زړه پورې  مطالب  ليکلي دي، اما د الفت صاحب  د معرفي او پيژندلو لپاره ښه او يواځيني  وسيله د دوی خپل آثار دي.
الفت صاحب په ليکوالۍ او شاعرۍ کښې  د يو خاص سبك  خلاق ؤ. دده دنثرونو او شعرونو  لوی خصوصيت سادګي او رواني ده، چه دا خاصيت ددوی ليکنې او اشعار د نورو شاعرانو او ليکوالو د شعر او نثر نه بيلوي. دالفت شعرونه او نثرونه  فصاحت او بلاغت لري  او خاص او عام بې تکليفه په مطلب پوهيږي او هر څوك د خپل ذوق په اندازه خوند ورنه اخلي.

الفت صاحب په خپل ساده او روان شعرونو او نثرونو، لوستونکي د ژوند هغو حقايقو ته متوجه کوي، کوم چه دمخه تر دې څوك ورته ندي متوجه شوي.
د اروابناد الفت شخصيت اود ژوند طريقه د هغوی د پوهې او علميت ښکارندوی ؤ.
په ظاهر او باطن کښې يې فرق نه ؤ. الفت صاحب د عمل سړی او د انساني او اسلامي اخلاقو نمونه او مثال ؤ.
د مرحوم الفت صاحب دشعرونو اوليکنو زياته برخه، اجتماعی او سياسي انتقادونه او د ټولنې د نيمګړتياوو د سمون په لور دعوت دی.د مسکينانو، بيوزلو او يتيمانو سره همدردي هم د الفت صاحب په شعرونو کښې ډير زيات دی. اسلامي جهاد د الفت صاحب په ليکنو کې لوی ځای لري او ديني او مذهبي اشعار يې په قرآن او نبوي احاديثو متکي دي.
الفت صاحب دخپل خدمت په وخت کښې د خوشحال خان ادبي جائزه او د ابوعلی سينا علمي جائزه لاس ته راوړی او دمعارف دويمه او د ستوری دريمه درجه نښانونو او ددويمې تقدير نامې په اخستلو هم بريالی شويدی.
د الفت صاحب ډير وخت په مطالعه او ليکلو تيريده. الفت صاحب د خپل ژوند په آخرو وختونوکښې(د محمد داؤد خان د جمهوريت په وخت کښې) د افغانستان د سياسي او اجتماعي وضعې نه ډير زيات ګريده او د هغه وخت د نا مناسبې وضعې د اصلاح د پاره ډير کوښښونه وکړ، اما سردار محمد داؤد خان چه د پرچميانو او کمونستانو لخوا محاصره شوی ؤ، سره له پخوانی پيژندنې او احترام، چه الفت صاحب ته يې لرله، نه يې الفت صاحب ته د ليدلو وخت ورکړ او نه يې د الفت صاحب ليك ته ( چه د هغه وخت د نا منا سبې وضعې او دهغه د خطراتو په برخه ليکل شوی ؤ)، توجه وکړ.
الفت د خپل عمر آخر وختونه د عزيز خان په کڅ کښې چه دده د زيږيدلو ځای دی تيرول، تر څو چه د۱۳۵۶ کال د ليندی د مياشتې په ۲۸ نيټه د زړه د حملې په اثر د ۶۷ کلنی په عمر وفات شو، او ددوی په پلرنی هديره کښې چه د کابل جلال آباد د سړك په څنګ پروت دی خښ شو. خدای (ج) دې وبخښي.